ليکوال: شريف بهاند


۲۸فبروری ۲۰۱۱

# طبيعي زيرمي

# د سوکالی وسيله او که د جګړې لامَل؟

# ۴

### افغان طبيعي شتمنې

### لورينه (رحمت) او که خوارېدنه؟

د همدې ليکنې په تيرو ۳ برخو کې وڅېړل شو، چې د بشريت د تاريخ په بهير کې طبيعي اومه توکو د اقتصادي ودې او پرمختيا، په تيره د پوځي برياوو په برخه کې څومره د ارزښت وړ او ټاکونکی رول لوبوي دی. د اومه توکو ترڅنګ، د مهمو او کليدي ستراتيژيکو سيمو په اړه او د هغوي پر ارزښت هم رڼا واچول شوه. افغانستان د دغو دواړو ځانګړتياوو، د طبيعي زيرمو او ستراتيژيک پريوت، لرونکی دی. همدې مسألې ته په نغوتې سره، الماني څېړونکي فريد شميت Fred Schmid ليکي: " افغانستان نه يوازې د طبيعي زيرمو له پلوه يو بډای هيواد، بلکې هغه په اسيا کې د جيوستراتيژيک کليدي پريوت خاوند هم دی. د همدې لامَل پر بنسټ دا لومړی ځل دی، چې متحده ايالتونه د پخواني شوروي اتحاد په پخواني جمهوريتونو او لويديزې پولې ته څېرمه پوځي اډې جوړې کړې" (۱).

په لرغون پير، له ميلاد څخه ۳۲۸ کال مخکې مقدوني سکندر، د نوو هغو په تيره بيا د ۱۷ او ۱۸ پيړی سترو ځواکونو، بريتانيا او روسيې ته د افغانستان ستراتيژيک ارزښت روښانه و. د نورو ترڅنګ الماني سياست پوه او ليکوال، کريستوف هيرمن دال Christoph Hermann Dahl په نړيوال سياست کې د هغه د رول په اړه ليکي: "که څوک افغانستان تر خپل کنترول لاندې ولري، کولی شي، هندوستان خپل وګڼي. ... ځکه دغه هيواد [افغانستان] د سرورزو د خول Juwels der Krone د ساتنې لپاره يو ځواکمن او اوسپنيز مورچل ګڼل کېږي" (۲). سربېره پر نومورې د هند پخوانی ويسرا، لارډ کرزن Lord Curzen هم په دې باب ويلي: "ترکستان،

افغانستان او فارس ... د سطرنج هغه داني ګڼل کېږي، چي د نړی د واکمنی [تسلط] لپاره وربانديٍ لوبي کيدای شي" [۳].

په لنډه توګه ويلي شو، چي ډيرو نامتو ستراتيژيستانو افغانستان د خپل جغرافيايي او ټولنيز جوړښت له امله د اسيا د وچي طبيعي مورچل بللی او د دوی په اند، د هغه لاندي کول ناشونی او ګران کار بريښي. ښي بيلګي يي د نورو ترڅنګ د تيری پيړی په پيل کي د هغه وخت د ستر ځواک د بريتانيا د نړيوالي امپراتوری او د هغي په پای کي د ختيځ د ستر ځواک ياني د شوروی اتحاد د پوځيانو ماته ده. د پخوانيو سترو ځواکونو له دغو پوځي ماتو او ترخو تجربو سره سره، بيا هم د دريمي زريزي يووزری ځواک، متحدو ايالتونو د خپلو ستراتيژيکو موخو[۴] د ترلاسه کولو لپاره د شمالي اتلانتيک د پوځي سازمان، ناتو د ځينو پياوړو اقتصادي ځواکونو سره يو ځای پر افغانستان يرغل وکړ.

ځکه افغانستان لکه څنګه چي په پورتنيو کرښو کي يادونه وشوه، د خپل ستراتيژيک پريوت له امله د يوي ځلورلاري حيثيت لري ، چي سويلی، منځنی او لويديزه اسيا سره نښلوي او پر هغه باندي کنترول، د اوراسيا پر سيمي هغه ګڼل کېږي. سربيره پر دغه کنترول د دغه يرغل بنسټيزي موخي، لکه څنګه چي د متحدو ايالتونو د پخواني ولسمشر مرستيال، ديک چينی هغه ته نغوته کړې ، د سيالانو، د روسيي د فدراسيون او د چين د ولسي جمهوريت د کړی تکميلول[۵]، د سيمي پر طبيعي زيرمو لاس بري او همدارنګه د فسيلي انرژی پر نلليکو کنترول دی. د اټکل له مخي د منځنی اسيا په تيره د کسپين د سمندرګي په شا و خوا سيمه کي نه يوازي د تيلو او ګازو زيرمي پرتي دي [۶]، چي د هغو ونده په لاندينيو جدولونو کي په ښه توګه روښانه شوی،

د بريتش پټروليم له خوا د کسپين د سمندرګي د زيرمو ارزونه

| هيواد | تيل (په مليارډو بيرلو) | ګاز (ترليون / مکعب فټه) |
|---|---|---|
| آذربايجان | ۷ | ۳۰ |
| قزاقستان | ۸ | ۶۵ |
| ترکمنستان | ۰ | ۱۰۱ |

اخځ:

British Petroleum, Statistics Review of World Energy, London, June, 1998, pp. 4

د امريکا د متحدو ايالتونو د انرژی د وزارت له خوا د کسپين د سمندرګي د زيرمو ارزونه

| هيواد | تيل (په مليارډو بيرلو) | | ګاز (بيليون / مکعب فټه) | |
|---|---|---|---|---|
| | ثابت شوي | اټکل شوي | ثابت شوي | اټکل شوي |
| آذربايجان | ۶ ، ۳- ۵ ،۱۲ | ۲۷ | ۳۱- ۴۰ | ۱۱ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قزاقستان | ۱۷، ۶ ــ ۱۰ | ۸۵ | ۱۰۳ -۹۵ | ۸۳ ــ ۵۳ |
| ترکمنستان | ۱، ۷ | ۳۲ | ۳۴ | ۱۵۵ - ۹۸ |

اخځ:

Energy Information Administration Caspian Sea Region, Washington, D. C., US-Government, Dec. 1998, p. 1

بلکي دغه سیمه کي تر هرڅه دمخه د یورانیمو، سپینو زرو، لرپیداکېدونکي فلزاتو ... او داسي نورو زیرمو له پلوه هم بډایه ده. د بیلګي په توګه قزاقستان څه نا څه د ۳۳۸، ۰۰۰ تنه او ازبکستان ۲۳۰، ۰۰۰ تنه یورانیم لري.[۷]

د امریکا د متحدو ایالتونو د کانو او ځمکه پیژندني د پوهانو د نوو څیړنو د رپوټ له مخي، چي په دا وروستیو کي د دغه هیواد د دفاع وزارت د چاراواکو له خوا خپور شوی، راغلي چي افغانستان هم د طبیعي اومه توکو له پلوه یو بډای هیواد دی. دا چي افغانستان د طبیعي زیرمو له پلوه یو شتمن هیواد دی، کومه نوي او شورانګیزه خبره هم نه ده. په دي موضوع شورویان لا پخوا پوهیدل. خو کېدای شي، چي د متحدو ایالتونو د څیړونکو څیړني د شورویانو هغو په پرتله دقیقي وي. د متحدو ایالتونو د څیړونکو د رپوټ له مخي په دغو زیرمو کي د نورو ترڅنګ تیل، ګاز، یورانیم، اوسپنه، مس، سره زر، لیتیوم، نیوبیوم، لرپیداکېدونکي فلزات او کوبالت کانونه شامل دي. لاندني نقشه د افغانستان د منرالي توکو د زیرمو ډولونه او د هغو پر بیو یو څه رڼا اچوي.




اخځ:

http://www.nytimes.com/2010/06/14/world/asia/14minerals.html?hp

د پنتاګون د رپوټ له مخې، افغانستان د څه نا څه یو بلیون ډالرو (یا ۸۳۰ ملیارد یورو) په ارزښت طبیعي زېرمې لري. خو د افغان حکومت د کانو او صنایعو د چارو د وزیر، شهراني په اند: " موږ د لومړنیو څېړنو پر بنسټ، چې نورو بنسټیزو هغو ته هم اړتیا لري، ویلی شو چې د افغانستان د طبیعي اومه توکو د زیرمو ارزښت درې بلیون یا درې زره ملیارد ډالرو ته رسیږي"[۸]. خو که د اومو توکو د راکړې ورکړې اوسنی بیه په پام کې ونیسو، د نورو ترڅنګ د اوسپنې بیه ۴۲۱ ملیارد ډالر، نیوبیوم Niobium ۸۱ ملیارد ډالر، کوبالت Kobalt، ۵۱ ملیارد ډالر، سره زر ۲۵ ملیارد ډالر ... او د لږپیداکېدونکو فلزاتو بیه ۴ ،۷ ملیارد ډالر اټکل شوې ده. د نیویارک ټایمز د رپوټ له مخې، د افغانستان لیتیوم Lithium د بولویا د هیواد، چې په نړۍ کې د دې توکو ډېر شتمن هغه بلل کېږي، تر هغو زیات دي. لیتیوم په چارچېدونکو بټریواو همدارنګه برېښنایي ـ بنزیني Hybrid موټرو، د لپ ټاپ، ټېلفونونو او نورو الکترونیکي وسایلو کې کارول کېږي.

د متحدو ایالتونو د چارواکو په اند، دغه طبیعي زیرمې زموږ د هاند وهڅو لپاره یو مهم بنسټ ګڼل کېږي، چې ښايي د هغو په مرسته وکولي شو، په افغانستان یو باثباته دولت رامنځته کړو. ځکه یو اغېزمن افغاني حکومت زیرمو ته اړتیا لري، چې په خپله خپلې اړتیاوې پوره او خپلو وګړو ته اغېزمن خدمات وړاندې کړې شي [۹]. یو شمېر بهرني اقتصاد پوهان هم په دې نظر دي، چې دغه طبیعي زېرمې ښايي د جګړې ځپلې افغانستان د بیارغونې لپاره یو ښه بنسټ وبلل شي. د بهرنیانو تر څنګ د افغان وګړو په زړونو کې هم داسې هیلې راټوکیدلې دي، چې ښايي افغانستان د خپلو اومه توکو د پوتنسیال له پلوه د نړۍ له ډېرو هیوادونو سره سیال او د ترلاسه شوو عایداتو له برکته به یې، نه یوازې د هیواد د بیا رغونې چارې ترسره، بلکې د دوی د سوکالۍ لامَل هم شي. خو زما په اند بنسټیزې پوښتنې دا دي، چې څوک به څه وخت او تر کومو شرایطو لاندې د دغو زیرمو په رااېستلو پیل وکړي؟ ایا څوک دې ته چمتو دي، چې د افغانستان د اوسنیو کړکیچنو امنیتي حالاتو سره سره بیا هم په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي؟ او بالاخره د دې تضمین شته دی، چې ترلاسه شوې پیسې به په رېښتیا هم د هیواد د بیا رغونې په چارو کې او د افغان وګړو د سوکالۍ لپاره وکارول شي؟ ایا یوازې د اومه توکو د زیرمو لرل د سوکالۍ لامَل او که د هغوې د رااېستلو د لارو چارو او همدارنګه د قیمتونو کنترول مهم شرط بلل کېږي؟

ښايي د لیکنې لوستونکي فکر وکړي، چې لیکوال د ډېر بدبینانه نظر خاوند دی. خو زه د نړیوالو تجربو او د ځانګیز پوهانو په ځانګړې توګه د اتریشي لیکوال او سیاست پوه، هانس کرونبرګر Hans Kronberger د نظر پر بنسټ په ښکاره توګه ویلی شم، په هغو سیمو او هیوادونو کې چې سیاسي ثبات او امنیتي حالات د اندېښنې وړ او د قانون پر بنسټ نه ولاړ دولت د واک چارې په لاس کې لري، دا ډول طبیعي شتمنې د سوکالۍ او رحمت وسیله نه، بلکې د خوارېدنې هغه شوې دي. هانس کرونبرګر په خپل نامتو کتاب "وینه د تیلو په بدل کې" په دې باب څومره ښه لیکي:"یوه مسأله روښانه ده او هغه دا چې د اومه توکو له پلوه بډایتوب هیڅکله د یوه هیواد د ټولنیزې سوکالۍ په مانا نه ده. په ډېرو برخو (موارډو) کې په دقیقه توګه د هغه برعکس دی. هرڅومره چې یو هیواد د اومه توکو له پلوه بډای دی، هومره یې اوسېدونکي بېوزله دي او د مستبدو یوځي زورواکو د حکومت، چې دیموکرات رنګ ور کړل شوی او یا هم پرته له دغه رنګ څخه واکمني چلوي، عمر اوږد دی. سربېره پر دې تجربو روښانه کړې، چې د اومه توکو په رااېستلو کې هر ډول زیاتوالی، د دغو هیوادونو لپاره، اقتصادي وده نه، بلکې تر هر څه دمخه د وسلو د کیفیت لوړوالي له ځانه سره لري" [۱۰]. نوموړی د افریقا د وچې د هیوادونو په ډله کې، نایجیریا او د کانګو جمهوریت د بیلګې په توګه یادوي او د اتریش دی پرسي „Die Presse“ د ورځپاڼې د افریقایي چارو د خبریال، توماس کنه مایر Thomas Knemeyer له رپوټ څخه په ګټې اخیستنې

سره ليکي: " ... د یوویشتمي پیړۍ په درشل کې د اومه توکو له پلوه یو شتمن افریقایی هیواد، بې له دې چې راتلونکې ته هیله من وي، د نړۍ په سوالګر بدل شوی دی. په داسي حال کې چې د هغه پوځي مشران په مجللو کلوپونو او ګران بيو هوټلونو کې راشه درشه کوي، خو [د دغه هیواد] ماشومان په کثافات دانیو کې په لوبو بوخت دي. ماشومان چې هر درېیم یې ان خپله پنځمه کالیزه په سترګو هم نه ویني" [۱۱].

د اومه توکو سم او پرله پسې راایستل لکه د ټولني پرمختک، ثبات او سولې ته اړتیا لري. خو لکه د ځینو افریقایي هیوادونو په څېر د افغانستان امنیتي حالات هم ډېر د اندېښنې وړ دي. ان د ملګرو ملتونو چارواکي اعتراف کوي، چې په دا وروستیو څو میاشتو کې د افغانستان امنیتي وضعیت په دراماتیکه توګه لا نوره هم کړکیچن شوی دی. د هغو اطلاعاتو له مخې، چې د کورنیو چارو د وزارت مرستیال، منیر منګل ان د ولسي جرګې د ټاکنو په درشل کې د دغې جرګې غړو ته وړاندي کړ، هم راغلي: چې د هیواد له ۳۶۴ ولسوالیو څخه " ... ۳۵۵ به عنوان مناطق پرخطر شناخته شده اند. ... که به این اساس، تنها یازده ولسوالی در سراسر این کشور به عنوان ولسوالی های امن باقی می ماند. ... آمار

- تعداد کل ولسوالی ها: ۳۶۴
- ولسوالی های پرخطر: ۳۵۵
- خطر شدید: ۱۱۴ ولسوالی
- خطر متوسط: ۵۰ ولسوالی
- خطر پایین: ۱۹۱ ولسوالی" [۱۲]

که د دغو ناارامیو ترڅنګ د هیواد امنیتي وضعیت د هغه د نورو عواملو د ساری په توګه د خلکو په وړاندي د ناوتریخوالي، اقتصادي پرمختک، له قانون څخه د زورواکو ځان لوړ ګڼل، د قوانینو سم نه پلي کېدل، په دولتي ادارو کې له حده وتلي فساد او په تیره د هیواد د پوځي لګښت، پر بنسټ هم وارزول شي، ادعا کولي شو، چې دغه طبیعي لورینه (د اومه توکو زیرمي) به د افغان ولس د سوکالی لامَل نه، بلکې د هغو د لا خوارېدنې هغه شي. څکه یوازې د افغانستان د څه نا څه د ۰۰۰ .۴۰۰ پوځیانو د روزنې، پالنې او د هغو په وسلو سمبالولو کلنې لګښت، لکه څنګه چې کرزی وایي:" مصارف نیروهای امنیتی افغانستان در حال حاضر به حدود ۸ ملیارد دالر سالانه میرسد ..."[۱۳]، چې دغه پوځي لګښت د دولت تر اوسمهالیزې عادي او پرمختیایي بودجي زیات دی. د دغي ادعا ثبوت د هیواد د ۱۳۹۰ کال د بودجي جوړښت (ترکیب) په ښه توګه روښانه کوي. د مالیې وزیر عمر زاخیلوال د ۱۳۹۰ لمریز هجري کال د بودجي په اړه وایي: "... بودجه ملی سال ۱۳۹۰ افغانستان نزدیك به ۲۱۶ میلیارد افغانی است که ۱۵۰ میلیارد افغانی آن بودجه جاری و مابقی مربوط به توسعه بخشهای مختلف است. نرخ هر دالر حدود ۴۵ افغانی در افغانستان محاسبه می شود که رقم بودجه سال آینده کشور معادل حدود چهار میلیارد و ۸۰۰ میلیون دالر تخمین زده می شود"[۱۴]. دا په دې مانا چې د افغانستان پوځي لګښت د هغه تر بودجي ډېر لوړ دی. نو افغان واکمن باید کال کې د عینک د مسو د زیرمې په څېر څلور ادا ډول هغه وپلوري، چې یوازې خپل پوځي لګښت سمبال (تأمین) کړی شي.

سربیره پر دې د هیواد نیمګړي (ناقص) مادي او معنوي بنسټونه هم د طبیعي زیرمو په راایستلو کې لوی خنډ ګڼل کیږي. د همدې لامَل پر بنسټ اړونده نړیوالي کنسرني زړه نه ښه کوي، په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي او که زړه هم ښه کړي، نو څه کوي چې هغه په نیمه بیه ترلاسه کړي.

د پورتنيو ستونزو ترڅنګ، د ليکوال په اند، د هيواد د طبيعي زيرمو د تالان لپاره تر ټولو ستر ګواښ، په هيواد کي د مزدور سرتيرو شتوالی دی. په نړيواله کچه د دوی ماموريت د غوړيدا (رونق) په حال کي دی. دغه ادعا د مزدور سرتيرو د شرکتونو کلنی عايد، چي په نړيواله کچه څه نا څه ۳۰۰ مليارد ډالرو ته رسيږي، په ښه توګه ثابتوي [۱۵]. لويديزه نړی په تيره متحده ايالتونه دغه مزدور سرتيري هغه وخت په دنده ګماري، چي د نړيوالو حقوقو له مخي نشي کولي، له خپل رسمي پوځي ځواک څخه ګټه پورته کړي، يا د دوی لاسپوڅي رژيمونه په يوي ستراتيژيکه سيمه کي د راپرځيدو له ګواښ سره مخامخ وي، يا غواړي خپل لاسپوڅي په دا ډول ستراتيژيکو سيمو کي واکمن کړي. په تيره مزدور سرتيري د اقتصادي ګټو د خوندي کولو په موخه په دغه يا هغه نامه په دنده ګمارل کيږي [۱۶]. د بيلګي لپاره ليکوال، د هانس کرونبرګر Hans Kronberger د کتاب "وينه د نفتو په بدل کي" يو ځيرکی "افريقا د ستونزو مرکز: اومه توکي بيوزلي رامنځته کوي" پېنتو کړی، چي د همدې ليکني په پای کي به خپور شي.

څکه د افريقايي هيوادونو تجربو ثابته کړي، چي زياتره وخت حکومتونه د مزدور سرتيرو تر اغيز لاندي او د هغو په منګلو کي راګير شي. دغه مزدور سرتيري د خپل خدمت په بدل کي د طبيعي زيرمو د رااېستلو د امتياز غوښتنه کوي. اتريشي ليکوال او سياست پوه، هانس کرونبرګر Hans Kronberger د مزدور سرتيرو په باب ليکي: " د مزدور سرتيرو ... يرغليزې ډلي د هيڅ يو حکومت اوامرو ته غاړه نږدي او د هيڅ يوی سياسي ايډيالوژۍ په وړاندي د مسؤوليت احساس هم نلري. دوی د ګټي له قانون څخه اطاعت کوي. په کړکيچ کي د راګير ولسمشر له خوا د ماموريت د ترلاسه کولو، په کورنی جګړې کي لاسوهنه او د واکمنو ځواک تأمنيوي. د دوی دغه خدمت په بدل کي شاهانه پاداش ورکول کيږي. د الماسو د رااېستلو اجازه، د تيلو د زيرمو د توليداتو امتياز او د اقتصادي شرکتونو د جوړولو اجازه. د بارلو (اِ ابن بارلو Eeben Barlow د افريقا په وچه کي د مزدور سرتيرو د يوه خصوصي ستر شرکت مشر دی. ليکوال) له پوځي زری څخه يوه اقتصادي امپراتوري جوړه شوې، چي د افريقا د وچي د طبيعي زيرمو په لوټولو اخته ده" [۱۷].

که څه هم د افغانستان په کړکيچ کي لا د افريقا د وچي مزدور سرتيرو کوم ماموريت نه دی ترلاسه کړی، خو د لويديزې نړی د هيوادونو د خصوصي امنيتي شرکتونو لکه د بلاک واټر Blackwater تر څنګ ارمور ګروپ ArmorGroup، ډَون کورپ DynCorp او ارينس Erinys اجيرانو ته دنده وسپارل شوې، چي په اصطلاح افغان ملي ځواکونه (اردو او پوليس) وروزي [۱۸]. که په روښانه توګه وويل شي، لويديځ اجيران ګمارلي، چي افغاني اجيران وروزي. خو تجربو ثابته کړې، چي په اجيرانو څوک دولت جوړولي نشي، څکه لکه څنګه چي مخکي يادونه وشوه، هغوي ځانته ځانګړې دندې لري. د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا پخواني سلاکار، انريکو بالستروس Enrique Ballesteros دغو دندو ته په نغوتي سره وايي: "د مزدور سرتيرو شرکتونه ... د خپلو خونړيو کړو وړو په بدل کي د انرژۍ او [نورو] زيرمو د رااېستلو امتياز ترلاسه کوي. په مجردی چي وضعه يو څه ثبات ومومي، دغه شرکتونه په تالان پيل کوي او په دې توګه په ځان پوري تړلي هغه رامنځته، چي هر يو يې په خپل وار سره د هوايي چلند، سرک جوړولو او د صادراتو او وارداتو په برخه کي په هاند و هڅو پيل کوي او د هماغه هيواد اقتصادي برخه، که څه هم پر بازار واکمن نه دي، خو تر زياتي اندازې پوري هغه تر خپل کنترول لاندي راولي" [۱۹]. افغانانو ته هم تر لمر روښانه ده، چي په هيواد کي د چا له خوا، څه ډول بهرني او کورني امنيتي کمپني او هغو پوري تړلي اقتصادي او خدماتي شرکتونو د کومو موخو لپاره رامنځته او په کومو دندو ګمارل شوي دي.

سربېره پر پورتنيو ستونزو په افغانستان کې د ځواک د جوړښت (ترکيب قدرت) ناڅرګند حالت له طبيعي زيرمو څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې هم يوه ستره ستونزه بلل کېږي. څکه دغه هيواد د ناتو د پوځي سازمان له خوا نيول (اشغال) شوی او د يوه پروتکتورات په توګه د دغه پوځي سازمان تر ساتنې (حمايه) لاندې دی. د پرتکتورات ځانګړتيا په دې کې نغښتې ده، چې د تړون له مخې لاندې شوی هيواد (پروتکتورات) په ټوليز او يا نسبي ډول، د خپلو معاملو واک او اهليت د پروتکتور (ساتندوی يا ساتندويانو) په ګټه له لاسه ورکوي. دغه حالت په هيواد کې په ښه توګه تر سترګو کېږي. د افغانستان د په اصطلاح دولت ترڅنګ د ريښتني ځواک خاوند د متحدو ايالتونو تر مشرۍ لاندې د ناتو پوځي سازمان، د دغو دواړو ترڅنګ بيا د ناتو د نورو ځواکمنو هيوادونو لکه، د برېتانيا، فرانسې او المان ځانګړي استازي او همدارنګه د ملګرو ملتونو سازمان، هر يو په افغانستان کې د دولتي ځواک په توګه خپل رول لوبوي. يا په بله وينا په دولت کې دولتونه رامنځته کړل شوي دي. ښايي افغان چاروکي په ځينو عادي کورنيو چارو کې په نسبي ډول ازاد لاس ولري، خو دا ټولو ته روښانه ده، چې د هيواد د ځمکنۍ او هوايي بشپړتيا کنټرول او څارنه د ريښتني ځواک، پروتکتور يانې د ناتو د سازمان د ځواکونو په لاس کې دی. دا هم روښانه ده، چې د ناتو د غړو هيوادونو ستري باروړنکي الوتکې او نور ترانسپورتي وسايل، هيواد ته د افغانانو د وژلو په موخه پوځي تجهيزات او وسلې رالېږدوي، خو دا بيا هغو ته څرګنده نه ده، چې په دغو الوتکو او نقليه وسايلو کې له افغانستان نه څه ليږدول کېږي، يورانيوم؟ او که لرېپداکېدونکي فلزات؟ او يا نور منرالي طبيعي اومه توکي، چې په تيره د لويديزې نړۍ د الکتروتخنيک د صنعت ځانګې هغو ته بيړنۍ اړتيا لري؟ دا هم هيوادوالو ته روښانه ده، چې د ناتو د سازمان او د هغه د ټلوالي پوځيان د طالب رژيم د راپرځولو په موخه او د ترهګرۍ او د القاعدې د ناڅرګندې شبکې په وړاندې د مبارزې لپاره افغانستان ته راغلي دي. خو دا بيا دوی ته څرګنده نه ده، چې په دوی کې څومره ځمکپوهان او لرغون پېژندونکي دي او هغوی د هيواد په کومه برخه کې په څه لګيا دي؟

ښايي زما په څېر هر افغان وګړی ته هم ګران کار وي، دې پوښتنو ته ځواب ووايي. خو زه د پورتني ارزونې پر بنسټ په ښکاره توګه ويلی شم، چې د هيواد طبيعي زيرمې د افغانانو لپاره، لکه د ناروی، استراليا او بوتسوانا Botswana د هيوادونو په څېر د رحمت او سوکالۍ لامَل نه، بلکې د افريقايي هيوادونو په شاني، د خواريدنې هغه کېږي. څکه نړيوالو ځواکونو په تيره اقتصادي هغو لا پخوا د اومه توکو پر سر نړيواله سره جګړه پيل کړې ده، چې د پردو له خوا پر افغانانو تپل شوي غوړمال، بډه اخيستونکي او له سياسي پلوه ناپوه واکمن، نه د دا ډول لوبې د لوبولو وړتيا او نه هم د هغې له قواعدو سره بلدتيا لري.

پای

اخځایونه:

1- Fed Schmid: China, Krise als Chane? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ____ Report Nr. 83-84, 2010, München, S. 50

2 -Dahl, Hermann Christoph: Die Rolle Afghanistans in der Weltpolitik, in : Zeitschrift für Politik, Bd. XIV, 1925, S. 441

۳ ـ وگورئ: شریف بهاند: ناخرګند څواک د افغان ناورین لاملَ، په:
http://www.tolafghan.com/posts/13046

۴ ـ وگورئ: شریف بهاند: پرده دوم بازی بزرگ، تحقق منافع ستراتیژیک در پوشش دموکراسی، کابل، ۱۳۸۸، ص. ۱۰۵ ـ ۱۱۳

5- Fed Schmid, Claus Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, , isw - Report Nr. 12 , 2009, München, S. 23

۶ ـ وگورئ، شریف بهاند: دریمه زربزه، د امریکا متحده ایالتونه، ناتو او نریوال نظم، په
http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/bahand_usa_nato_au_naleiwal_nazem.pdf

7- Reserven, Ressourcen und Verfügbarkeit von Energierohstoffen 1995, Hannover, 1995, S. 432

8- http://pa.azadiradio.org/content/article/2074636.html

9- http://www.zeit.de/2010/23/P-oped-Gewalt-privatisiert?page=1

10- Kronberger, Hans: Blut für Öl, Der Kampf um die Ressourcen, 1998, Wien, S. 87-88

11- Kronberger, Hans: Blut für Öl, Der Kampf um die Ressourcen, 1998, Wien, S. 96

12- http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2010/06/100616_k01_af_insecurity.shtml

13- http://afghan-german.com/upload/news_af/NewsBoard/Today.htm# متن بیانیه حامد کرزی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

14- http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=19121

15 - http://www.zeit.de/2010/23/P-oped-Gewalt-privatisiert?page=1
Und http://www.zeit.de/2010/23/P-oped-Gewalt-privatisiert?page=2

16- Ebenda, هماغه اخځای

17- Kronberger, Hans: Blut für Öl, Der Kampf um die Ressourcen, 1998, Wien, S. 99

18- http://www.zeit.de/2010/23/P-oped-Gewalt-privatisiert?page=1

19- Kronberger, Hans: Blut für Öl, Der Kampf um die Ressourcen, 1998, Wien, S. 99